PS



# د ګوتو چاپونه او یوروډاک

د دریم هیواد د هغو اتباعو یا بې وطنه اشخاصو لپاره معلومات چې په یوه غړي هیواد کې په غیر قانوني توګه اوسیدلې دي، د (EU) د 2013/603 مقررې د 29(3) مادې سره سم

که چیرته وموندل شي چې تاسو په یوه ‹ډوبلین› هیواد کې په غیرقانوني توګه اوسیږئ[1]، مسولین کولای شي ستاسو د ګوتې نښې ثبت کړي او د «یوروډاک» په نوم د ګوتو د نښو د ثبتولو ډیټابیس ته یې ولیږدوي. د دې موخه یواځې دا ده چې وکتلای شي چې تاسو په تیر وخت کې د پناه اخیستلو لپاره غوښتنه درلوده او که نه. ستاسو د ګوتې د نښې اسناد به د یوروډاک په ډیټابیس کې نه ثبتیږي، خو که مو چیرته مخکې په کوم بل هیواد کې د پناه اخیستلو غوښتنه کړې وي، تاسو کیدای شي بیرته هغه هیواد ته ولیږدول شئ.

که چیرته ستاسو د ګوتې نښې روښانه کیفیت ونلري یا تاسو په قصدي توګه خپلو ګوتو ته صدمه رسولې وي، نو ستاسو د ګوتې نښې به په راتلونکې وختونو کې واخیستل شي.

یوروډاک د اروپایي اتحادیې د یوې ادارې له خوا چې eu-LISA بلل کیږي، په مخ بیول کیږي. ستاسو اسناد یواځې هغو مواردو کې کارول کیږي چې د قانون له خوا معین شویدي. ستاسو اسناد به یواځې د یوروډاک مرکزي سیستم ته داخلیږي. که چیرته تاسو په راتلونکې کې د ډوبلین په کوم بل هیواد کې د پناه غوښتنه کوئ، یوروډاک ته د ثبتولو په خاطر به ستاسو د ګوتې نښه هم واخیستلای شي. په یوروډاک کې ثبت شوي اسناد به له EU او ورسره ګډو هیوادونو پرته له بل هیڅ ادارې یا هیواد سره نه شریکیږي.

---

1) دا د اروپایي اتحادیې په کچه پراختیا لري (استریا، بلجیم، بلغاریا، کروسیا، قبرس، چک جمهوریت، دنمارک، استونیا، فنلند، فرانسه، جرمني، یونان، هنګری، ایرلیند،ایټالیا، لتویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، مالتا، نیدرلنډ، پولنډ، پورتګال، رومانیا، سلواکیا، سلووانیا، هسپانیه، سویډن، انګلستان) همدا شان د ډبلین هیوادونو 4 متعهد هیوادونه هم شامل دي (ناروي، آیسلینډ، سویتزرلینډ او لیختن شتاین) دي.

© د اروپا اتحادیه 2014
بیاتولید یې مجوز دی. د هرډول کاروونې یا انفرادي عکس (کاپي) تولید لپاره اجازه باید د کاپي حق لرونکو لخوا په مستقیم لیکلې بڼه واخیستل شي.

# د اړیکو معلومات

د یوروداک (Eurodac) معلوماتی سیستم مشرتوب پته اوارتباطی نښی:

## د پناهنده ګی تو مهاجرت دفتر د کورنیو چارو وزارت تر لاندی

پته: L. Sapiegos g. 1, 10312 ویلنیوس

تیلیفون: +370 5 271 7112

بریښنالیک: md.rastine@vrm.lt

ویب پاڼه: http://www.migracija.lt

د معلوماتو څارونو ( محافظت او کنټرول ملی ارګان پته او نښی:

## د معلوماتو دولتی څاورنکی اداره:

پته: Juozapavičiaus g. 6, 09310 ویلنیوس

تیلیفون: +370 5 271 2804,

+370 5 279 1445

بریښنالیک: ada@ada.lt

ویب پاڼه: https://www.ada.lt/




که چیرته زمونږ مسولین داسې ملاحظات ولري چې له مخه یې په یوه بل داسې هیواد کې ستاسو د نړیوالې ساتنې غوښتنلیک تر پوښتنې لاندې راشي کوم چې ستاسو د غوښتنلیک د ارزونې مسولیت لري، تاسو به ډیر مفصل معلومات د هغه پروسیژر په اړه چې تعقیبول یې اړین دي، تر لاسه کړئ او په دې به هم پوه شئ چې دا څنګه ستاسو پر حقونو اغیز درلودلای شي

BZ-01-14-068-PS-C

doi:10.2847/20737

ISBN 978-92-9243-164-8

European Commission

EASO

MIGRACIJOS DEPARTAMENTAS

Publications Office